مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی
۲۰۲۱/۰۱/۲۶

# بی انتها را ته را یاده شوله!

د کابل په یوې څنډې کې د دریو دنګو ودانیو شا ته چې ویل کېږي د کوم ښکره ور زوراکي دي، څو پینه پتره خیمې هم څنګ په څنګ ولاړې او نرې نرې لوګي ترینه پورته کېږي. هره جونګړه یې د غربت څلی، د بې وسۍ سمبول او د بې عدالتۍ یوه مناره ده. ګرد چاپېره سپیني واورې، تورې ختې او د برق د لینونو په ځای، ژېړ تنابونه ځوړند دي. له ښۍ خوا په دریمې کېږدۍ کې یوه څلور کلنه هلمندۍ یتیمه، له خپلې ملا کړوپې انا، کونډې مور او دوو ګلالیو ورونو سره اوسیږي.

په دغه مخامخ مجللو بلډنګونو کې به حتما داسې قاضیې یا څارنوال اوسیږي چې همدا پرون به یې له کوم طلاقې او طلاقۍ څخه خپله بونګه اخیستې وي. شاید د پولیسو داسې یو أفسر به هم وي چې نن مازیګر به یې له یو درجن موټړ وانانو څخه خپل قلنګ را غونډ کړی وي. د شهیدانو او معلولینو د وزارت داسې چارواکی به هم میشت وي چې د هیواد د اتلو شهیدانو د کونډو او معلولینو په نوم، شین بنډل به یې بیګاه د خپلې میرمنې په مخ کې ایښې او د بچو لپاره به یې د لوبو او ساتیرۍ ښه پریمانه سامانونه اخیستې وي.
د ژوند د ستمونو په دې توپان کې ځېل شوې ارواوې، د دې خلکو غرغره شوی احساس او زنګ وهلی خاموشه شعور خو هسې هم د یو دروند ماتم مستحق دی. که له یوې خوا سرینډې ماتې، شپیلۍ کنې او د رباب تارونه برغنډ برغنډ دي، نو بله خوا د قتلونو تجاران له وینو تویولو ستړي نه شول او نجاران د تابوتونو له جوړولو څخه. د ویجاړو خونو او د بې خازې قبرونو افساني خو اوس دومره پیکه شویدي چې د ډیرو حساسیت یې په معافیت بدل کړیدی.
په یوې لنډې وډیو کې دغه ۶۲ کلنه ادې د کومې خیریه موسسې استازې ته وایې: زما د ځوئ غټه ګناه همدا وه چې تازه پولیس شوی وو، شپږ ویشت کلن وو، دغه درې مومنان او یوه کونده یې را ته پریښودل. د پنځه وخته لمونځ قضا پرې نه وه، هره پردۍ تور سرې یې خپله خور ګڼله. په دې سپینو کمڅیو به در ته قسم وخورم چې د دې وطن خاوره وربانډې له ما څخه هم ګرانه وه. زه پخپله په ډیرې ځوانۍ کې کونډه شوې یم، دغه ځواني مرګ مې د یو او بل په کورونو کې په خوارۍ مزدورۍ را لوی کړ. بس همدا به د خالق رضا وه چې د څلورمې میاشتې تنخواه یې کور ته راوړه او په سباله دغه د ړندو سترګو اوښکه یې را څخه واخیسته او موږ یې خپلې اسرې ته پریښودو.
غازي خو په خپل ګمان، د خپل وطندار سینه په دې خاطر غلبیل غلبیل کړه چې ګوندی په بله دنیا کې به د اویا حورو سره واده وکړي او په لسګونو غټ سترګي غلمان به جامونه په لاس، د ده خدمت ته ولاړ وي. خو شاید دا به یې هیر کړي وو چې د اوو اسمانونو د پاسه د عرش خالق او واکمن دا هر څه ګوري او څاري. ښایې دا خوارکی به پدې هم نه پوهیده چې د کوثر د اوبو بیه د بیګناه انسانانو وینه نه ده. ممکن دا به هم ورته چا نه وو ویلي چې دین یواځې د الله تعالی دی خو دا وطن د ټولو شریک دی. ډیر امکان لري چې د غازي به پدې هم سر نه وو خلاص چې کله دغه ماشومه د هوس د شرمښانو او ناموس د لیوانو په منځ کې لویه شي، د هغې راتلونکی به څه وي؟
که چیرې شهید سیلاب صافی ژوندی وایې نو حتما به یې د دې یتیمې د کتورو کتورو سترګو، پلاستیکي څپلکو، بې تنبو ګریوان او چاودو چادو سپیرو خپرو په حال زوریدلی او سخت زهیر شوی وو او زما یقین دی چې بې اختیاره به یې له خولې را وتلي وو:

| | |
|---|---|
| د شوخو سترګو خیال مې زنګوي | که د تورو زلفو تال مې زنګوي |
| په وصال کې چې هر څومره ځان محکم کړم | د هجران نرۍ شمال مې زنګوي |
| بې ارادې که هر څو وترړم سیلابه | تصور د خط او خال مې زنګوي |

او که اروابناد قتیل خوږیاني ژموږ له دنیاګۍ څخه کډه نه وای کړی او د دغې معصومې ماشومې له درده خبر شوی وای نو د یو سوړ اسویلي سره به یې دا یو بیت حتما زمزمه کړی وو چې:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

## په زړه مې ولې را ورېږي څه باران خو نه يې
## هسې مې درد را پاروې زما درمان خو نه يې

ولې په دې نه پوهېږم چې د ځلاندو فکرونو او مطمئنو زړونو خلک ولې چوپ او ناګاره دي؟ زما د هجرت د لمړنيو ورځو آشنا او همزولي، قانع اکا خو يواځې د خپل ولس د درد او کړاو بګټې ويشتلې، ولې بيا هم چا ونه منلو او د لوديانو او سوريانو تر منارو يې ورسولو. قرار يې پدې خاطر ناقراره او له سفارته لرې کړ چې يو سپين سترګي لنډه غر ته يې لنډه غر ويلې وو. کنه نو د مومنې او د هغې له سپين سرې انا سره به يې ضرور د زړه خوالې په عنوان، د ضمير د ملامت او سلامت ترمنځ ځو کربښې نذرانه کړې وې.
کله چې په ۱۹۴۷م کې پاکستان او هندوستان دوه جلا جلا ملکونه شول، نو څو مياشتې وروسته اقبال لاهوري د خپل حکومت د مشرانو سره هسپانيې ته لاړ. د ملاقات په پای کې علامه اقبال په مادريد کې له پاچا څخه وغوښتل چې د قرطبې په جامع جومات کې چې له نژدی پنځو پېړيو راهيسی ورڅخه کليسا جوړه شوېده، د دوه رکعته لمونځ اجازه ورکړي. نوموړی په خپل شعر کې وايي: کله چې زه د لمړي رکعت سجدې ته ښکته کيدم، نو زما اوښکې ځما له تندې څخه ګړندی او خپل خالق ته په سجده شوې. خو مازيګر چې ما دغه ويډيو خپلې ميرمنې ته وښوده، نو ژر يې خپله لمسۍ چې ټيک د مومنې په عمر ده، په غيږ کې ونيوله او تر تر له سترګو يې څو همزولې اوښکې تويوئ شوې. دلته زما زړه ته ولويدله چې که د وينو فوارې او د باروتو لمبې هر څومره په غر غنډو شي، د خوا خوږو انسانانو پټه عاطفه او ځرګندې اوښکې هيڅکله هم د ګريوان ملتيا نه پرېږدي.
دا څو ورځې چې زه د کور دننه په قرنطين کې ووم، نو يو دوست مې له کاناډا څخه د استاذ شاولي په خوږ غږ يوه سندره را وليږله چې:

ما يې کوشش د هېريدولو کاوه — زړګيه بيا را ته رایاده شوله
ستا هغه يو نظر چې خاورې کړله — خپله دنيا را ته را ياده شوله
زړه به نن ټوله ورځې خورم وريسی — سهار سبا را ته را ياده شوله
هغه ليلی را ته را ياده شوله — بی انتها را ته را ياده شوله

د دغو بيتونو شاعر او کمپوزر خو د تَخَيُّل، وهمونو او هنر په دنيا کې د خپلې معشوقې د هيرولو او يادولو کوشش وکړ، د بنډار ياران يې مست او په محفل کې د لوټونو باران جوړ شو. خو زه چې نن سهار را پاڅيدم نو بيګانۍ ويډيو مې لا د ذهن او سوچ هنداره د غنې په شان، پخپل جال کې ټينګه رانغښتې وه. هلمندۍ يتيمه، د هغې د کورنۍ محروميت، کړاو او په خپل وطن کې د جلا وطنۍ کيسه را ته د يوې کرېکې په بڼه بيا بيا غوږ کې وګنېدله او د پام د غلطولو سره سره، بيا هم بی انتها را ته را ياده شوله.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ